# زما دوست او ملګري صلى الله عليه وسلم راته په درېو کارونو وصيت کړی دی: له هرې مياشتې څخه درې ورځې روژه نيول، د څاښت دوه رکعته لمونځ کول او دا چې له وېده کېدو وړاندې وتر وکړم

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی وايې: زما دوست او ملګري صلى الله عليه وسلم راته په درېو کارونو وصيت کړی دی: له هرې مياشتې څخه درې ورځې روژه نيول، د څاښت دوه رکعته لمونځ کول او دا چې له وېده کېدو وړاندې وتر وکړم.
[صحيح] [متفق عليه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی)]

ابوهريرة رضي الله عنه خبر ورکوي چې دوست يې رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته د درېو خويونو په درلودلو وصيت کړی دی: لومړی: له هرې مياشتې څخه درې ورځې روژه نيول. دويم: هره ورځ د څاښت دوه رکعته لمونځ کول. دريم: له وېده کېدو وړاندې وتر کول، د هغه چا لپاره چې وېره لري د شپې په وروست برخه کې نه شي راويښېدلی.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4538